واحد فقیری هاری ۲۰۰۸/۱۰/۱۱م

# د سعودي عربستان ناکامه غونډه

په سعودي عربستان کي، د ښاغلي کرزي د حکومت د استازو او د طالبانو د ځينو پخواني مامورنيو او ډيلوماتانو تر مينځ د سعودي عربستان د پاچا عبدالله په مينځګړيتوب يوه پټه غونډه وسوه. ددې غونډي اصلي هدف د طالبانو او کرزي د حکومت تر مينځ سوله او روغه جوړه وه. د طالبانو او حکومتي چارواکو تر مينځ د خبرو اترو دا لمړی پړاو ندی، بلکي څو ځله مخکي هم د کرزي استازي او طالبان خبرو ته سره کښېنستلي دي. خو هيڅ ترې را و نه وتل. مګر ددې خبرو څه اهميت پدې کي دی چي دا مجلس په مکي مکرمي کي وسو. د سعودي عربستان رول او نقش په طالبانوکي په خاص ډول او په مذهبي ډلو کي په عمومي توګه يو څرګند حقيقت دی. مګر بل واقعيت دا هم دی چي ددې غونډي ګډون کونکي په اوسني طالبانو کي چندان نفوذ نلري. ملا محمد غوث، متوکل، ملا ضعيف، او مجاهد د طالبانو په جنګي صفوفو کي ندي. بلخوا، د حکومت په استازو کي د زلمي رسول او د حامد کرزي مشر ورور قيوم کرزي نومونه يادېږي. حال داچي دا دواړه کسان په حکومت او افغاني ټولنه کي نفوذ او زور نلري. اصلاً، د کابل اوسنی اداره د سياسي قدرت او صلاحيت واحد مرکز نلري. ددې اداري لويه کمزوري د سياسي اتوريتي او د قانون د حاکميت نشته والی دی.

په هر صورت، د طالبانو سره خبري کول په خپل ذات کي بده خبره نده. طالبان او القاعده بايد سره جلا سي. افغان طالبان له سنتي ملايانو، له ځان او جهانه بېخبره طالبانو، او د کليو د بېکاره او روزګاره ځوانانو څخه جوړ دي. د هغوی په فکر مځکه مسطح او اواره ده او د غوايي پر ښکر ولاړه ده. افغان طالبان ساده خلک دي چي د ای ايس ای تر نفوذ او سلطې لاندی دي. مګر القاعده اکثره د عربو، اوزبکو، چيچنو، تاجيکو، او نورو مذهبي انارشستانو او مزدور و مذهبي ډلګيانو مجموعه ده. هغوی په خپلو وطنونو کي د هستونګي، ټيک، او ژوند ځای نلري. هغوی اکثره مور او پلار عاق کړي دي. هيڅ چا ته يې ښه زړه ندی پرې ايښی. په بل عبارت، طالبان جلا دي او القاعده بېله ده. لنډه داچي دمخالفانو سره خبري کول بد ندي، خو بايد د خلکو داسي استازي يې ورسره وکي چي صلاحيت او اتوريتي ولري. د افغانانو يوه لويه کمزوري پدې ده چي تل يې په برخليک او ژوند باندي نور خلک لوبي کوي. اکثرا، دوی له سياسي پروسي څخه بهر، مرور، او چېرته د يوې غټي وني تر سيوري لاندي ټنډه خوبونه کوي او يا چيري يوه غوړ پيتاوي ته ناست او چورت وهي. د ژنيوا کانفراس، د اسلام اباد موافقه، د بن کانفرانس، د مکي شريفي مرکې او . . . داسي نوری غونډي يې ژوندي مثالونه دي.

يوازي هغه وخت د سولي خبري نتيجه ور کوي چي استازي يې په خلکو کي څه زور او مشروعيت ولري. د ټولو پخوانيو کانفرانسونو، موافقو، او غونډو د ناکامی اصلي عامل دا وو چي استازي يې دننه په افغاني ټولنه کي زور او مشروعيت نه لاره. هغوی د خارجي قواوو بې واکه او بې اختياره ګوډاګيان وه. که چيري په راتلونکو غونډو کي همدې اصل ته توجه ونسي، زه يقين لرم چي د سولي هر کانفرانس او يا غونډه به ناکامه وي. طالبانو سره بايد داسي يو حکومت خبري وکړي چي حداقل په افغانانو کي څه ريښه او پلويان ولري. نه يو داسي حکومت چي حتی په کابل کي هم مشروعيت او صلاحيت نلري.

د کرسچين ساينس مانيټور ورځپانه د اکتوبر پر ۹ باندي ليکي: د افغانستان د حکومت او ياغيانو منابع وايي چي دوی د سولي خبری نه کوي، بلکي د تېري مياشتي د سعودي عربستان مذاکرات فقط د خبرو د پيلولو په منظور وه. د طالبانو پخوانی مامور وحيد مژده وايی: د سعودي عربستان مذاکرات ښيي چي حکومت کمزوری دی او ځګ ته لاس اچوي. دا خبري پداسی وخت کي کيږي چي د طالبانو بغاوت په ګرده ملک کي زور اخيستی دی.

بلخوا، د مکي په غونډه کی داسي طالبانو برخه اخيستي وه چي په طالبانو کي چندان نفوذ او قدرت نلري. د مکي په غونډه کي داسي پخواني طالبانو ګډون کړی وو چي د طالبانو په مشرتابه کي اثراورسوخ نلري. د طالبانو د اوسني مشرانو څخه يوه هم پدې مجلس کي برخه نه وه اخيستي.

کرسچين ساينس مانيټور ادامه ورکوي او ليکي: د سعودي عربستان د باچا په غونډه کي ۱۷ تنو ګډون کړی وو. پدې خلکو کي د طالبانو د بهرنيو چارو پخوانی وزير، ملا محمد غوث، په ملګرو ملتونو کي د طالبانو پخوانی استازی،


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

عبدالحکیم مجاهد، او د حزب اسلامي غړی، عبدالسلام هاشمي شامل وه. لدې جملې څخه یو کس هم په اوسني طالبانو کي کوم مقام نلري. د مثال په توګه بل ګډون کونکی مولوي ارسلا رحماني وو چی فعلا سناتور دی. هغه حتی د طالبانو په دروان کي هم چندان قدرت نه لاره. بل، پخوانی خارجه وزیر وکیل احمد متوکل دی چي له ډېر وخت راهیسي په طالبانو کي چندان نوم او نښان نلري. دغه راز، پدې غونډه کي عارف نورزي او د ملی امنیت سلاکار زلمي رسول هم ګډون کړی وو.

د ملاعمر په یوې اعلامیې کي راغلي دي چي دغه خلک د طالبانو استازي نه دي. مګر ځیني مبصرین وایي همدا پخواني طالبان د ځینو اوسني طالبانو سره اړیکي لري، او کېدای سي چي د مینځګړي په توګه فعالیت وکي.

مګر د طالبانو پخوانی سفیر ملا عبدالسلام ضعیف په طالبانو کي څه نفوذ لري. همدا راز، عبدالله زاکري هم د څه اثر رسوخ خاوند دی. ملا محمد غوث هم د طالبانو سره نژدې او ښې اړیکي لري.

منابع وایی چي پدې خبرو کي شهزاده ترکي فیصل هم برخه لرله. هغه د طالبانو سره ډېر نژدې روابط لرل، او د افغانستان د اسلامي ډلو سره یې د ۱۹۸۰ د کلونو راهیسي اړیکي ساتلي دي. پدې غونډه کي، د پاکستان پخواني صدراعظم، نواز شریف، هم ګډون کړی وو. ښاغلي نواز شریف د ۱۹۹۰ په کلونو کي په پیښور کي د افغان مجاهدینو د مشرانو په راغونډولو کي موثره ونډه لرله.

د واشنګټن پوسټ ورځپانه د اکتوبر پر ۹ باندي لیکي: همدا اوس، متحداياالات د افغانستان دپالیسی په اړه په غور او تجدید نظر لګیا دي. اخبار ادامه ورکوي او لیکي: سپینه مانۍ غواړي چي پدې وروستیو اونیو کي د افغانستان په ارتباط یو فوري تجدید نظر په داسی وخت بشپړ کړي چي د یوې خوا د بوش اداره د هغه هیواد لپاره هراړخیزه ستراتیژي نلري، او له بلي خوا، د امریکا استخبارات په افغانستان کي د زیاتېدونکي بې امنی په باب اندېښمن دي.

د ملي امنیت اتکل په نامه یوه څېړنه چي تقریبا بشپړه سوي ده، وایی: القاعده او طالبان ببرته منظم سوي او نوري افراطي ډلي هم ور سره یوځای سوي دي. همدې مسلې د هغوی د ماتولو کار لا سخت کړی دی.

د متحده ایالاتو ځینی عالي رتبه مامورین وایی څرنګه چي په هیواد کي د جمهوري ریاست انتخابات را روان دي، نو ښایی د افغانستان او پاکستان حالات یوه څه نور هم بحراني سي. ځکه پالیسي لا نده روښانه او ښایي څه وخت وغواړي چي یوه بله پالیسي انتخاب سي.

ورځپانه لیکي: دعراق او افغانستان لپاره د جمهورریس مشر سلا کار ،جنرال ډګلاس لوت، د پنتګان او د بهرنیو چارو وزارت چاراواکو ته ویلي دي مجبوره یوو چي ځیني اساسي پوښتني ببرته له سره مطرح کوو: په افغانستان کی، زموږ اصلي اهداف څه دي؟ هلته څه لاسته راوړای سو؟ زموږ منابع څه دي؟ زموږ د ملګرو رول څه دی؟ خپل دښمن څونه پېژنو؟ او بالاخره، څرنګه به د افغان او پاکستان کمزوري حکومتونه ددې ستونزي سره مجادله وکي؟

د افغانستان په اړه د خطر زنګونه ددې کال په سر کی هله وښورېدل چي د بهرنیو چارو وزیره مېرمن کاندا لیزا رایس له افغانستان څخه ببرته واشنګټن ته راستنه سوه. هغه پدې قانع سوی وه چي افغانستان یو ځل بیا د تباهی کندي ته ورشوه کېږي. دغه راز، د متحده ایالاتو د دفاع وزیر، ښاغلی ګېټس، هم د هغې نظر تایید کی. هغه کانګرس ته وویل طالبانو خطرناکه تاکتیکونه خپل کړيدي، د متحده ایالاتو په قیادت ایتلاف غیرمنظمه دی، او د یوې عمومي ستراتیژۍ د نشته والي په خاطر د بین المللي ټولني د بیاودانولو هلي ځلي ناکامه دي.

سږ کال، په افغانستان کی، د یاغیانو حملي تر بل هر وخت زیاتي سوي دي. جنګونه ډېر سوي دي. همدا راز، په پاکستان کی د امریکایي عسکرو حملي زیاتي سوي دي. طالبان پر څو ډلو وېشل سوي دي، د جلال الدین حقاني ډله، د حکمتیار ډله، او د طالبانو څو مختلفي ډلي. القاعده تر ډېره حده پوري له عربو، اوزبکو، چیچین، او د مرکزي اسیا د نورو افراطیانو څخه جوړه سوېده. القاعده غواړي چي د پاکستان له قبایلي سیمو څخه پاکستانی حکومت لیري وساتي، او لدې ځایه په افغانستان کي د یاغیانو سره مرسته وکي. که څه هم، د هغوی تر مینځ څه سیالي او رقابت سته، خو اوس په ګډه کار کوي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

بلخوا، د متحده ایالاتو استخباراتي اداري وايي جمهورریس حامد کرزی ددې توان نلري چي د اداري فساد او مخدره موادو پرخلاف جدي اقدام وکي.

که څه هم، د امریکا د دفاع وزیر افغانستان ته د نورو امریکایی عسکرو د استولو بندوبست کوي، خو باور لري چي په افغانستان کي به زيات خارجي عسکر وضع نوره هم خرابه کړي. افغانستان غواړي چي ۱۴۰۰۰۰ کسیزه اردو ولري. ښاغلی ګېټس وايي ددغه اردو کلنی لګښت به دوه او یا دوه نیم بیلونه ډالره وي چی د افغانستان د کال ۲۰۰۸ د ملی عایداتو لږترلږه درې برابره کيږي.

پدې وروستيو میاشتو کی، پنتګان د نړیوال ایتلاف هیوادونو ته ویلي دي که چیری افغانستان ته عسکر نه استوي، نو پیسې دي ولیږي.
بلخوا، د نیویارک ټایمز اخبار د اکتوبر پر ۹ باندي لیکي: د متحده ایالاتو د استخباراتي ادارو یو رپورټ وایی: افغانستان د تباهۍ کندي ته ور شوه کيږي، او افغان حکومت ددې کفایت او صلاحیت نلري چي د طالبانو له خطر سره مقابله وکي.

پدې محرم رپوټ کي راغلي دي چي د افغانستان د حکومت شوړېدلی دی. په حکومت کي اداري فساد او رشوت ډېر سوی دی، او د حامد کرزي اداره بیخي بې اعتباره سوې ده. پدې رپوټ کي د بوش پر حکومت باندي سخت انتقادونه سوي دي.

د امریکا جمهوري ریاست په انتخاباتو کي، د افغانستان رواني وضعي ډېره توجه ور جلبه کړې ده. د سي ای ې يو مامور وايي د افغانستان ستونزه په سپینه مانۍ او اروپايی پلازمېنو کي د لیډرشپ په نشته والي کی خلاصه کيږي. ښاغلی هنري کرمپټن وايي افغانستان له اوله سره خراب وو، او فعلا وضعه نوره هم خرابيږي. په واشنګټن کی، اوس د مسولو کسانو سترګي کرار کرار رڼيږي. دوی ډېر وروسته پدې خبري پوه سول، مګر اوس شرایط ډېر خراب سويدي.

د جمهوري ریاست دواړو کاندیدانو افغانستان ته د نورو اضافه عسکرو د استولو تجويز تایید کړی دی. ښاغلی اوباما وايي د بوش اداري د افغانستان پر ځای عراق ته زیاته توجه وکړه. مګر ښاغلی مکېن د بوش د حکومت دفاع کوي او وايي عراق د ټروریزم پرخلاف د جګړې اصلي میدان دی.

ښاغلي اوباما د سې شنبې د شپې په مناظرې کی وویل: ما کرزي ته وویل د خپلو خلکو سره ښه کوه. موږ باید يو داسي حکومت ولرو چی د خلکو استازيتوب وکړي، خو ښکاره خبره دا ده چي اوسنی حکومت همدا کار نه کوي.

د بوش اداره د افغانستان په لیرو پرتو سیمو کي د افغاني قومونو د مسلح کولو او د هغوی سره د طالبانو په ځپلو کي د مستقیمي همکارۍ په باب غور کوي. د بوش حکومت له ډېر وخت راهیسي د افغاني اقوامو د مسلح کولو په ارتباط ټکنی دی. د بوش د اداري استازو هیله کوله چي د افغانستان د اوسني حکومت موسسات به دونه غښتلي سي چي پخپله امنیت وساتي. مګر د سږکال زیاتېدونکي مرګ ژوبلي دوی دېته مجبوره کړل چی د اقوامو د مسلح کولو په اړه فکر وکي.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de